


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه، علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست !

# د مولانا داکتر محمد سعيد « سعيد افغانى » ليکنه

د نشر نيټه : 05 جولاى 2016 م

# اسلام څه شى دى؟

په يو حديث کښې د رسول الله څخه روايت دى :
« المسلم من سلم الناس من لسانه ويده » په بل حديث کې راغلى دى: « المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده » . په دى اساس :

مسلمان هغه دى : چه په چا باندى په وينا او عمل کى ؛ تجاوز نه کوى.
مسلمان هغه دى : چه چا ته بد نه وايي ، تجاوزونه نه کوى او ګناه بده ګنى .
مسلمان هغه دى : چه په عدل ، صلى او نيکو کارى باندى امر کول ؛ او د ټولو ناوړه رويو او بى حيايى څخه اجتناب او خلک منع کوى.

د النحل په سوره ، په « ۹۰ » آيات کښې راغلى دى :
إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ وَإِيتَاءِ ذِي الْقُرْبَى وَيَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ وَالْبَغْيِ يَعِظُكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ ( سوره ۱۶: النحل ـ جزء ۱۴ ايه ۹۰ )
الله پاک په عدالت او له دو ستانو سره مرستى پر متعلق امر کوى . او بى حيايى ، ناوړه کارونو او تجاوز څخه ممانعت کوى .

دا نصحيت د دى لپاره کوى چه خلک پند واخلى همدا ډول پوه و پاک مسلمان کار اوعمل کوى . مګر؛ خپل ټول کارونه الله پاک ته د عواقبو او نتايجو په لحاظ سپارى .

الله پاک د الزمر په سوره « ۵۴ » آيات کښې فرمايى : « وَأَنِيبُوا إِلَى رَبِّكُمْ وَأَسْلِمُوا لَهُ .... سوره ۳۹: الزمر ـ جزء ۲۴ ايت ۵۴ » خپل پروردګار ته رجوع وکړى .

پاک الله تعالى د ال عمران په سوره « ۲۰ » آيات کښې فرمايى : « فَقُلْ أَسْلَمْتُ وَجْهِيَ لِلَّهِ » حضرت محمد ( ص ) وويل : پاک الله ته انقياد وکړى. او هغه ته مى خپل هرڅه سپارلى دى .

ابن هشام  په سیره کی ؛  جعفر بن ابی طالب  د اسلام او جاهلیت په منځ کی فرق  واضع کړی دی
په خپله هغه وینا کښی  چه نجاشی ته یی  دهجرت په وخت  کښی کړی  ده ، وایی :

زمونږ قوم به د جاهلیت په وخت کښی د بتانو عبادت کوه، شراب  به مو خوړل ، بی حیایی ګانی به مو کولی ، د خپلو او دوستانو لحاظ  به مونه ساتی ، د همسایه ګانو حقوق موهیر کړی  وه  او د قوت خلکو به د ضعیفانو مالونه خوړل .

مونږ  په همدغه رنګه ناوړه مرضونو تر هغه وقته مبتلا وو ، تر څه چه مونږ ته الله پاک  زمونږ د جنس څخه پیغمبر راولیږه  .

دا پیغمبر چه  مونږ یی  په راستی  او امانت او پاکی  پیژنو دغه  پاک او سو چه پیغمبر  مونږ یی د  الله پاک وحدانیت  او عبادت  ته  وبللو .

دغه پیغمبر مونږ د کفر او بتانو د عبادت  څخه لکه  چه پلرونه  موکول ، منع  کړی یوو .

مونږ ته یی  د ریښتیا ویلو په ادا کولو ، د دوستانو د حقوقو ساتلو ، او د ګاونډیانو ښه روی په کولو  امر کړی . او د ناروا کارونو او وینی تویولو نه مو ، را منع  کوی .

دی د  بی حیایی ، دروغ  ویلو ، د یتیم  د مال  خوړل  نه مو ، را منع  کوی ، او د ده  سره  هیڅ په عبادت ، کښی  شریک  نه منی .

دی مونږ  ته د لمانځه په اد کولو ، د ذکات ورکولو ، او د  روژی  په نیولو امر کوی . مونږ د دغه پیغمبر تصدیق  کوو  او ایمان  مو پری راوړه.

***

« سعید افغاني »

کابل ـ ۱۳۵۲  هجري شمسي

کابل ـ  افغانستان

ترتیب کوونکی : برهان الدین « سعیدی »

www.said-afghani.org  ـ  بارګشت به صفحه اصلی